انجینر داؤد اڅک

۱۵ مارچ ۲۰۲۱

## جبهه په سیاست کي

که څه هم چي د تاریخ په څپو کي د ټولنیزو ناخوالو او مظالمو پر ضد پاشلي سیاسي مبارزې سوي او د فرانسي په شان انقلابونه ئي بریالي کړیدي خو بریا ئي ځکه تلپاتي نه وه چي منظم تشکُل، انتخابي رهبري او د ټولنیزو شرایطو سره سمه برنامه ئي نه لرل. پدې خاطر چي مبارزه هدفمنده وي او پایلي ئي ملموسي او دوامداره وي نو طبیعي ده چي سیاسي جوړښتونو ته ضرورت دی. له همدې کبله کله چي د ۱۹ مي پیړی په پای کي د احزابو ایجاد پیل سو نو مبارزې هم منظم او سازماني شکل غوره کړ. یعني سیاسي ټولنو خپلو اهدافو ته د رسیدو لپاره د سازمان، حزب، ائتلاف او جبهي په شان جوړښتونه رامنځته کړل چي نوموړي جوړښتونه په معینو ټولنیزو شرایطو کي د ضرورت پر بنسټ په یوه ټولنه کي شکل اخلي.

پدې خاطر چي سیاسي گرداونه خپلو اهدافو ته په بریالیتوب سره ورسیږي نو لازمه ده او شاید و باید چي د ټولنیزو شرایطو سره سم خپل سیاسي وسایل هم ولري څو وکړای سي چي خپله مبارزه په بریالیتوب سره گرندی مخته بوزي.

سیاسي اهدافو ته د رسیدو لپاره د وسایلو له جملي څخه مهمه وسیله سیاسي پوهه ده. یعني سیاسي علم موږ ته دا راښیي چي څنگه سیاسي قدرت ته ورسیږو او څنگه کولای سو چي د خپل ولس په ملگرتیا او همکاري باندي خپل سیاسي قدرت وساتو. اهدافو ته د رسیدو لپاره بله مهمه وسیله سیاسي جوړښت (سازمان، حزب، ائتلاف او جبهه) ده. د بحث د بنه سپړلو لپاره به بده نه وی چي پر نوموړو مفاهیمو باندي جلا جلا باندار وکړو.

### ۱ ـ سازمان

د سازمان او حزب په تعریف کي ډیر توپیر نه لیدل کیږي خو په شکلي لحاظ ئي فرق دادی چي حزب په مشخص ډول په ټولنه کي سیاست کوي اما سازمان کیدای سي چي هم نړیوال وي او هم مدني جوړښتونو ته سازمان وویل سي. لکه د ملل متحد سازمان، د بشري حقوقو سازمان، د هوا پیژندي نړیوال سازمان او داسي نور. سازمان بیل بیل تعریف سویدی.

د ساري په ډول امریکایي ټولنپوه تالکوت پارسونز Talcott Parsons سازمان داسي تعریفوي:

(سازمان هغه ټولنیز واحد دی چي په قصدي ډول جوړیږي څو ځانگړي اهداف تر لاسه کړي).

بروس کوئن Bruce Cohen امریکایي وایي چي:

(رسمي سازمان د خلګو هغه ډلي ته ويل کيږي چي يوه ډير مشخص هدف ته د رسيدو لپاره خپل کوښښونه سره همږغي کړي).
زما په اند سازمان د همفکرو خلګو هغه ټولګه ده چي کله سياسي او کله مدني ځانګړي اهداف تعقيبوي او د مشخصو اصولو درلودونکى وي.

### ۲ – حزب

حزب عربي کلمه پيژندل سويده چي د ډلي، جمع، دسته، او سياسي تشکيلاتو په معنا دی. حزب يا ګوند هم بيل بيل تعريف سويدی خو زه ئي داسي تعريفوم: حزب هغه سياسي جوړښت دی چي د ځانګړو او ګډواهدافو لپاره د معينو اصولو او تشکيلاتو په چوکاټ کي ګډه او دوامداره مبارزه کوي چي مقصد ئي په حکومت کي قدرت، بدلون يا پر حکومت باندي اثر ښندنه ده.

### ۳ – ائتلاف

ائتلاف Coalition په لغوي لحاظ د اتحاد، اتفاق، موافقت او يوالي په معنا دی خو په اصطلاح کي ځانګړي هدف ته د رسيدو لپاره موقت يوالي ته ائتلاف ويل سويدي. ائتلاف کيدای سي چي په يوه ټولنه کي د سياسي جوړښتونو يعني د سياسي احزابو او سازمانو لخوا رامنځته سي يا هم کيدای سي چي د څو هيوادو تر منځ نړيوال ائتلاف وسي خو په ټوله کي ائيلاف په يوه خاص سياسي حالت کي د يوه مشخص او ګډ هدف لپاره شکل اخلي.
پدې معنا چي: احزاب، سازمانونه يا هيوادونه په ځانګړو ټولنيزو يا نړيوالو حالاتو کي د ضرورت پر بنسټ يوه ګډ هدف ته د رسيدو لپاره ائتلاف کوي يعني اتحاد کوي. دغه اتحاد يا يوالی ترهغه وخته پوري دوام کوي څو ائتلاف خپل نهايي، ګډ او معين هدف ته ورسيږي. کله چي ائتلاف هدف ته ورسيد بيا نو هر حزب يا هر هيواد پرخپله لاره ځي. د ساري په ډول بين المللي ائتلاف دی په ګران افغانستان کي چي موخه ئي د تروريزم له منځه وړل دي. سياسي احزاب هم د يوه مشخص هدف لپاره په يوه ائتلاف کي يوځای کيږي کله چي هدف تر لاسه سو بيا نو هر ګوند پر خپله لار ځي.

### ۴ – جبهه

په عربي کي مخ يا تندي ته جبهه وايي خو په نظامي ادبياتو کي د جنګ لومړۍ کرښه يا د جنګ ډګر ته جبهه ويل کيږي. اما په سياسي ترمينولوژی کي ائتلاف ته ورته جوړښت دی چي څو سياسي حزبه يا سازمانونه يوه ګډ او ځانګړي هدف ته د رسيدو لپاره پر يوه ګډ پلاتفورم باندي هوکړه کوي. کله چي جبهه خپل مشترک هدف ته ورسيدل بيا نو هر حزب او سازمان د ائتلاف په شان پر خپله لار باندي ځي. خو د جبهي او ائتلاف تر منځ لږ توپير سته او هغه داچي:
ائتلاف عموماً تر هغه وخته پوري يو موتی پاته وي څو چي خپل هدف ته په کُلي ډول نه وي رسيدلی او که چيري يوه عضوه هدف ته تر رسيدو مخکي د ائتلاف څخه وزي بايد خپل دلايل ولري خو جبهه داسي نده. په جبهه کي کيدای سي چي هدف پر برخو يا پړاونو باندي وويشل سي او د جبهي اعضاوي کولای سي چي د جبهي سره تر يوې برخي پوري يا تر يوه پړاو پوري ملګري وکړي او وروسته خپله لار جلا کړي. د ساري په ډول که په يوه هيواد کي د دولت (اجرائيه قوه، مقننه قوه، قضائيه قوه) د تعويض لپاره د سياسي ګوندونو يوه جبهه ايجاديږي نو د جبهي يوه عضوه يعني حزب يا سازمان کولای سي چي صرف د دولتي واکمن (صدراعظم يا رئيس جمهور) تر ليري کيدو پوري د جبهي سره

پاته سي وروسته جبهه پرېږدي او یا کیدای سي چي د ټول حکومت تر بدلون پوري په جبهه کي پاته سي. یعني حتمي نده چي یو حزب یا سازمان دي په جبهه کي تر پایه پاته سي.

**اوس مهمه داده چي جبهه باید د چا ترمنځ جوړه سي؟**

جبهه او ائتلاف یوه ګډ او مشخص هدف ته د رسیدو لپاره باید د هغو احزابو او سازمانو تر منځ شکل واخلي کوم چي بیلي برنامي او بیل بیل اهداف لري خو هغه احزاب او سازمانونه چي یو شانته فکر کوي، مشابه برنامي لري صرف په شمیرو کي ئي فرق وي، ګډ اهداف او مشترک مکانیزم لري، حتا مشترکه ایدیالوژي لري او د یوې مور اولاده وي هغه باید اصولآ په ګډ او واحد حزب کي سره راټول سي نه جبهه یا ائتلاف کي. د داسي ګوندو لپاره چي هر څه ئي مشابه وي د جبهې مطرح کول یا په جبهه کي راټولیدل نداچي ستره سیاسي اشتباه ده بلکه د طلایي وخت ضیاع هم ده. ځکه پدې خاطر چي ددوئ په منځ کي په تیؤریک لحاظ هیڅ داسي څه نسته چي دوئ دي یو دبل څخه لیري او جلا فعالیت وکړي.
مګر هو: یو لوی او قوي دښمن په منځ کي سته چي دوئ هیڅکله نه پرېږدي چي تر یوه چتر لاندي په یوه واحد حزب کي ګډه، اصولي او ملي مبارزه وکړي. دغه لوی او خطرناکه دښمن کومه بیګانه پدیده نده بلکه د سیاسینو خپله خود خواهي یا ځان غوښتنه ده چي د مؤقف، مقام او شهرت د کسب لپاره ئي د سیاسینو څخه ارام اخیستی دی.
پایله داچي: هغه سیاسیون چي ولس او هیواد ته ږمن او صادقه نه وي، خپلي شخصي او سکټرستي ګټي تر ملي ګټو او مصالحو مهمي بولي په هر سیاسي فورم کي چي سره ټول سي یوالی به ئي بې ثباته او اتحاد به ئي د روښکی وي.
په درنښت
سرچیني: انلاین ډیکشنري ابادیس

۲۰۲۱ ـ ۳ ـ ۱۴